# AFGHANISTAN | افغانستان

(TIER 2)

مذهبي ازادۍ لپاره د امریکه د متحده ایالاتو کمیسون (یو ایس سی آی آر ایف) د متحده ایالاتو د فدرالي دولت یو خپلواک او دوه ګوندیز کمیسون دی چې له هیواده بهر د مذهب یا د عقیدې د آزادۍ د عالمي حق څارنه کوي. په 1998 کې د نړیوالې مذهبي آزادۍ د قانون (آی آر ایف اې) لخوا جوړ شوی یو ایس سي آی آر ایف په خارج کې له مذهبي یا عقیدوي ازادیو د سرغړونو د څارنې لپاره نړیوال معیارونه کاروي او ولسمشر، خارجه سکرتر، او کانګرس ته د پالیسیو د جوړونې لپاره سپارښتنې ورکوي. یو ایس سي آی آر ایف یو خپلواک واحد دی او د متحده ایالاتو له خارجه وزارت بېل دی. د 2019 کلنی رپورټ د کمشنرانو او د مسلکي کارکوونکو د یو کال د کار پایله ده چې په ترڅ کې یې دوی په نړۍ کې زورزیاتي په لاسوندي توګه رایوځای کړي او اوس د متحده ایالاتو دولت ته د ټګلارو په لړ کې خپلواکې سپارښتنې ورکوي. د 2019 کلنۍ رپورټ کې د کال 2018 سر نه تر د دسمبر 2018 پورې موده پوښ لاندې راوستل شوې، که څه هم په ځینو بېلګو کې له دغه موده وروسته مهمې پېښې هم يادې شوې دي. د یو ایس سي آی آر ایف په اړه نور معلومات [دلته](#) ومومئ، یا په 202-523-3240 مستقیم تماس ونیسئ.

## افغانستان

**مرکزي موندنې:** کال 2018 کې افغانستان کې د مذهبي ازادیو وضعو منفي رجحان درلود. د افغانستان مشرتابه په هېواد کې، په ځانګړې توګه د مذهبي لږکیو، د امنیت په ساتلو کې مشکلاتو سره مخامخ وه. د ترهګرو ډلو، لکه د د خراسان په ایالت کې د اسلامي دولت (داعش) په ضد روان عملیات د هېواد عمومي امنیت ته خطر جوړوي، په ځانګړې توګه د هېواد شیعه مسلمانانو ته چې په وروستیو کالونو کې زیاتېدونکو بریدونو سره مخ دي. کال 2018 د ترهګریزو فعالیتونو له امله افغانستان کې ملکي خلکو—او په خاصه توګه مذهبي لږکیو لپاره—تر ټولو وژونکو کالونو کې یو و، او ډیرې وخت دولت ونتوانېد چې ملکیان له بریدونو وژغوري. سره له دې، د دغه راپور د پوښ لاندې موده کې د غیر مسلمو لږکیو ډلې لکه هندوان، عیساویان، او سیکان خطر سره مخ وو—چې ډېر له هېواده وتښتېدل او د دغه ټولنې ډېر شمېر مشران د کال 2018 په جولای کې شوي یوه لوی برید کې ووژل شول. په عمومي توګه افغانستان کې د 1990 په لسیزه کې د طالبانو د واک د وختونو راهیسې مذهبي لږکیو د بشري حقونو سختې سرغړونې زغملې دي او تر اوسه د سخت دریځو ډلو د دوامدارو بریدونو لاندې کړېدلي پاتې شوې دي. سیکان او هندوان توان نه لري چې خپل مذهبي دودونه په عام محضر کې ترسره کړي او خپله پېژندنه پټولو ته اړ شوي دي ځکه چې دوی د ترهګرو ډلو یا په پراخه توګه له ټولنې د انعکاسي بریدونو څخه ویره لري. په داسې حال کې چې حکومت د مذهبي لږکیو ټولنو ته ډاډګیرنې ورکړې دي او د ټګلارو د جوړولو په پروسو کې یې د ورګډولو محدودې هڅې هم کړې دي خو ټولنیز او اقتصادي توپیري چلند او د امنیت نشتوالی د دغه ټولنو ژوند ته دوامداره ننګونې دي، او خطر سره مخ نور نفوس، لکه ښځې او انجونې، هم دغه چالشونه لري. که د متحده ایالاتو د دولت، د افغان دولت، او د طالبانو تر مینځ خبرو اترو کې مذهبي ازادي یو مرکزي موضوع ونګرځول شي، امکان لري چې روان رجحان شرایط لا زیات بد کړي.

د دغه اندېښنو په بنسټ، یو ایس سي آی آر ایف د کال 2019 لپاره افغانستان په دویمه پوړۍ یعني Tier 2 کې شماري ځکه چې کال 2006 راهیسې دا هېواد د نړیوالو مذهبي ازادیو د قانون (آی آر ایف اې) لاندې د "ځانګړې اندېښنې هېواد" ګمارل شوی دی ځکه چې د مذهبي ازادۍ څخه په سرغړونو کې ککړ پاتې کېدلو یا یې زغملو په حواله ټاکلې معیار یعنې "منظمو، دوامدارو، سختو" سرغړونو څخه لږ تر لږه یو ډول سرغړونه په دغه هېواد کې ترسره کیږي. یو ایس سی آی آر ایف په عمومي وضعې او د مذهبي ازادیو څخه د سرغړونو په نتیجه کې پر حالاتو د افغان حکومت د کنترول د کچې په اړه اندېښمن دی. دغه شان یو ایس سي آی آر ایف به د مذهبی ازادۍ د اوضاع څارنه کوي چې وګوري آیا حالات نور هم

خرابيږي او آيا دا د راتلونکي کال لپاره د افغانستان په حیثیت کې د بدلون مناسب دلیل وړاندې کوي. یو ایس سي آی آر ایف مومي چې طالبانو، په داسې حال کې چې د افغانستان ځیني برخې یې واک لاندې دي، په کال 2018 کې د مذهبي ازادیو په ضد سختو سرغړونو ته دوام ورکړ نو په دې بنسټ د مذهبي آزادیو لپاره نړیوال قانون (آی آر ایف اې) کې د دسمبر 2016 د ترمیماتو لاندې سپارښتنه ورکوي چې د طالبانو ډله باید یو ځل بیا له مذهبي آزادیو د سرغړونو په بنسټ "په ځانګړې توګه یو اندېښمنوونکی واحد" په توګه وپېژندل شي. د متحده ایالاتو د خارجه وزارت د طالبانو ډله "په ځانګړې توګه یو اندېښمنوونکی واحد" په توګه شمارلې ده چې دا کار د کال 2018 په نومبر کې تازه ترسره شوی دی.

**د متحده ایالاتو دولت ته سپارښتنې**

- په افغان دولت فشار راوړي تر څو قبوله کړي چې طالبان د مذهب یا عقیدې ازادۍ ته څومره لوی خطر دی او د متحده ایالاتو دولت، افغان دولت، او د طالبانو تر مینځ د سولې خبرو اترو په ترڅ کې دا اندېښنې په لاندې ډول راپورته کړي:
  - خطر سره مخ د ډلو—د ښځو او انجونو په ګډون—د امنیت په اړتیا ټینګار وکړي چې په تېر وخت کې د طالبانو د کارونو او تګلارو له امله د دغه خلکو مذهبي ازادۍ او ورسره تړلي حقوق په خطر کې پاتې شوي دي؛ او
  - په دې زور واچوي چې په ټول هېواد کې د مذهبي ازادۍ حقوق تضمینولو په لړ کې د حکومتي چارواکو، د امنیتي ځواکونو، او د طالبانو پخوانیو همکارانو رول یو بل سره تړاو لري؛

- د افغانستان په اړه د امریکا د خارجه وزارت، د نړیوالې پراختیا لپاره د امریکا اداري یو ایس ایډ، د زریز چیلنج په حواله د همکارۍ اداري، او د امریکا د دفاع وزارت په ستراتیژیجیو او تګلارو کې د مذهبي ازادۍ په اړه اندېښنې د تړلیو موضوعاتو لکه د مذهبي سخت دریځۍ په ضد مبارزې او د فرقه ییزو شخړو حل کولو سره یو ځای کول تضمین کړي؛

- له افغان دولت غوښتنه وکړي چې د کال 2004 رسنیز قانون، چې "غېر اسلامي" لیکنې منع کوي، لغوه کړي او د سفارت، مخکښو پارلیماني غړو، د قانون وزارت، او ستره محکمه کې د فتواوو او د احتساب ریاست تر مینځ همکارۍ له لارې د مناسبو قوانینو په واسطه کال 2007 کې د سترې محکمې هغه پرېکړه بې اغېزه وګرځوي چې پکې یې بهایي مذهب ملعون او ټول مننونکي یې مرتدان بللي؛

- د زدکړې لپاره افغان وزارت او معلوماتو او د کلتور وزارت ته تشویق ورکړي چې:
  - تضمین کړي چې—او که ممکنه وي د نړیوالې پراختیا لپاره د امریکا د ادارې لخوا [د نصابي کتابونو د چاپ او د وېش د پروژې](#) سره په همکارۍ، اشتعال پاروونکي او زغم نه لرونکي نصابي کتابونه او نصابي مواد بند او له استعمال یې لرې کړي؛ او
  - په هېواد کې د مذهب او ټولنې پر موضوعاتو د خلاص بحث او متنوع نظرونو لپاره مدني ساحه تخلیق کړي؛ او

- د کورنیو چارو، د دفاع او د حج او د اوقافو وزارت پر وړاندې سپارښتنه وکړي چې په ګډه همکارۍ افغانستان کې د بېلا بېلو ادیانو او د مختلفو مسلمانو ټولنو دیني مشرانو او علماوو ته امنیت ورکړي او د هغوی تر مینځ همکاري پیدا کولو لپاره جلسې برابرې کړي.

**شالید**

**افغانستان**
**پوره نوم:** د افغانستان اسلامي جمهوریت
**دولت:** واحد ولسمشریز اسلامي جمهوریت
**نفوس:** 34940837
**د دولت پېژندل شوي مذهبونه/عقیدې:** اسلام
**مذهب په بنسټ نفوس*:**
98.99% مسلمان (80% سني؛ 10–19% شیعه مسلمانان، د اسماعیلیانو په ګډون)
1%څخه زیات نور خلک (هندوان، سیکان، بهایي، عیساویان، بودایان، او زرتشتان)
*د شمېر اټکلونه د سي آی اې د ورلډ فېکټ بک څخه

افغانستان د بېلا بېلو نسلي ډلو د یوې لړۍ کور دی چې پکې پښتانه (42 سلنه)، تاجک (27 سلنه)، هزاره (9 سلنه)، ازبک ( 9 سلنه)، ترکمن ( 3 سلنه)، او بلوڅ (2 سلنه) دي. افغانستان په تاریخي توګه د متنوع مذهبونو کور پاتې شوی دی؛ خو، کله چې په کال 1992 کې طالبانو حکومت په لاس کې واخست، د غیړ مسلمو یو پراخ اکثریت له هېواده وتښتېد. دا هېواد اوس هم نړیوالو ترهګرو ډلو لکه طالبانو، داعش، او القاعده لخوا د عملیاتو مرکز په توګه کارول کیږي. نور دا چې افغانستان او پورې پاکستان کې سیمه ییزې تروریستي ډلې هم کار په لاس دي چې پکې د حقاني شبکه، لشکر جهنګوي، لشکر طیبه، او تحریک طالبان پاکستان شامل دي.

ملګرو ملتونو او غیړ دولتي سازمانونو (این جي او ګانو) کال 2018 په افغان شخړه کې تر ټولو خوني کالونو کې یو اعلان کړی، چې د ترهګریزو فعالیتونو له امله 2798 ملکي کسان وژل شوي او لږ تر لږه 5000 کسان ژوبل شوي دي. په داسي حال کې چې د هېواد نفوس په عمومي توګه امنیت ته خطرونو سره لاس او ګرېوان دي، خو مذهبي لږکي په ځانګړې توګه، خطرونو سره لا هم مخ دي ځکه چې د هېواد مشرتابه د دغه بریدونو په مخنیوي کې پاتې راغلي ده.  په حقیقت کې د افغانستان ملي دولت د هېواد له مجموعي سیمې څخه یوازې په 50 څخه تر 60 سلنه پورې سیمه کنترول لاندې لري، او پاتې یا خو د سخت دریځو ډلو په واک کې ده یا یې نیولو لپاره په جنګ اخته دي. وضع لا نوره پېچلې په دې شوې چې د دغه راپور په موده کې افغان دولت طالبانو سره خبرو اترو ته دوام ورکړی دی، على الرغم له دې حقیقت چې دا دویم فریق یعني طالبان د سولې لپاره خبرو اترو کې د حکومت رول نه مني.

اساسي قانون په رسمي توګه اسلام د دولتي مذهب په توګه پېژني او واجبه ګڼي چې ټول پارلیماني قوانین د اسلامي اصولو تابع وي. غیړ مسلم اجازه نه لري چې په دې وطن کې تر ټولو لوړې چوکۍ، د ولسمشر او د مرستیال ولسمشر د چوکیو په ګډون، په واک کې واخلي. که څه هم د جزا د قانون 18م څپرکی ټولو مذهبونو ته ژغورنه ورکوي او پکې په عامه توګه په خپل مذهب عمل کوونکو باندې برید او د مذهبي ځایونو ړنګول جنایتونه ګڼل شوي دي، خو د دغه ژغورنې عملي بېلګې ډېرې لږې لیدل شوې دي.

کال 2004 راهیسې یو مبهم متن لرونکی رسنیز قانون "غیړ اسلامي موادو" ته جنایت وایي او د دغه قانون د پلي کولو چارې له دولتي چارواکو او د رسنیو د غړو څخه جوړ یو کمیسون ته ورکړل شوې دي. د داسې دوسیې لپاره چې د قوانیو یا د اساسي قانون لخوا ورکړو اصولو تر پوښ لاندې نه راځی نو د اساسي قانون تر مخې قضایي محکمه باید د حنفي شریعت د قواعدو څخه استفاده وکړي. دغه اصول د مقدساتو لپاره د توهین په معاملو اغېز اچوي ځکه چې د افغانسان د جزا قانون

کې یې ذکر نشته خو د حنفي قواعدو تر مخې یې جزا مرګ ده. کال 2001 راهیسې مقدساتو ته د توهین په تور چا ته د اعدام د جزا هیڅ کومه بېلګه نه ده ثبت شوې.

د اساسي قانون ماده 2 تر مخې اسلام دولتي مذهب دی خو سره له دې بیانوي چې غېر مسلم خلک ازاد دي چې په خپلو "مذهبي رسمونو" عمل وکړي خو باید دا کار "د قانون د حدودو دننه" ترسره شي. دا په دې مانا شوه چې د غېر مسلمو د مذهبي چارو ته حدود ټاکونکي قانونونه جوړېدلای شي. له دې سربېره، د عبادت هغه محدود حق چې غېر مسلمو ته ورکړل شوی د بشري حقونو لپاره په نړیواله توګه پېژندل شویو معیارونو څخه ډېر توپیر لري چې له دې محدودې اجازې خورا زیات پراخ دي. دا ذکر په ځانګړې توګه ځکه مهم دی چې د افغانستان اساسي قانون په سپینو ټکو نړیوال قانون، په خاصه توګه د بشري حقونو نړیوالې اعلامیې لپاره احترام لازم ګرځوي.

## په 2018 کې د مذهبي ازادۍ شرایط

***شیعه مسلمانانو سره چلند:*** کال 2001 کې د امریکا لخوا پر افغانستان د یرغل وروسته، د هغه نسلي او مذهبي لږکیو ډلو خلک، چې پخوا راهیسې ناتوانه پاتې شوي وو، وتوانېدل چې تر نسلونو اوږد توپیري چلند باندې بالاخره بر راشي او په عامه او خصوصي سکتورونو کې مهم پوستونه ترلاسه کړي. دا وضع په ځانګړې توګه د شیعه مسلمانانو ټولنې په حواله واقعیت لري چې په تېرو دوو لسیزو کې یې ټولنیز او سیاسي اغېز زیات شوی ځکه چې غړي یې په زیاتېدونکي کچه په حکومتي، رسنیز، او خصوصي سکتورونو کې د مشرتابې پوستونه په لاس راولي. اوس په هېواد کې د شیعه ګانو 10000 جماتونه دي چې له دغو 400 په پلازمېنه کابل کې دي. یو شمېر خوشاله ګاونډونه او ابادۍ هم د هېواد په بېلا بېلو برخو کې شته چې اوسېدونکي یې په غالب شمېر له شیعه مسلماني ټولنې دي.

د شیعه مسلمانانو ټولنیز او سیاسي پورته تلنه هم یو لامل دی چې ځینو سخت دریځو ډلو دغه ټولنه خپل هدف ګرځولې چې دوی یې له خپله دیده مرتدان ګڼي. بیا هم د داعش او د طالبانو لپاره کارکوونکو سخت دریځو تر مینځ یو سطحي تقسیم جوړ شوی دی. د بېلګې په توګه، نومبر 2018 کې د یو برید په پایله کې، د طالبانو ویب پاڼې توضیح ورکړ چې د کوم "ځانګړي نسل، قوم یا فرقې" په نخښه کول د دوی مقصد نه دی بلکه موخه یې پر هر هغه چا برید کول ده چې حکومت سره مرسته کوي.

بل خوا ته، داعش سره تړاو لرونکو تندرویانو قصداً خپل بریدونه او په عامه ژوند کې یې خپلې نفرت پاروونکې خبرې زیاتې کړې دي چې دا افغانستان شیعه مسلمانان له انساني حرمت څخه بې برخې کوي. تر یو حده د دې لامل د افغانستان شیعه ګانو لخوا سوریه کې د داعش په ضد جګړه هم ده. په پایله کې د داعش ګڼ مشران چې له سوریه افغانستان ته د ترهګریزو پایګاهو جوړولو لپاره تښتېدلي دي، هغوی په هېواد کې ټولو شیعه مسلمانانو څخه د بدل اخستلو نیت سره وارد شوي دي. دا په ځانګړې توګه مهمه ده ځکه چې په زیاتېدونکي شمېر کې ځایي طالب جنګیالي خپله وفاداري داعش ته اړوي. په کال 2018 کې نتیجه دا شوه چې په شیعه جماتونو د داعش لخوا په تدریجي توګه زیات مرګوني کېدونکو د بریدونو لړۍ پیل شوه، لکه په مارچ 2018 کې یو برید کې یو تن مړ شو او اته ژوبل شول او په اګست کې دویم برید کې 29 کسان مړه شول.

په داسې حال کې چې د داعش بریدونو په عمومي توګه ټول ملکي خلک هدف ګرځول، خو د شیعه مسلماني ټولنې په ضد بریدونه یې زیات مرګوني پاتې شوي دي، چې یوازې په کال 2018 کې یې دوه درځن بریدونو کې نږدې 300 کسان مړه کړي دي. داسې بریدونه ډېری د شیعه مذهبي مراسمو لکه عاشورې یا محرم په وختونو کې شوي دي. د دغه خطر په ځواب کې افغان دولت د اضافي امنیت ورکولو هڅه کړې او شیعه جماتونو سره نږدې خلکو ته یې د وسلو وړاندیز هم کړی دی.

کال 2018 کې سخت دریځو ډلو، د داعش په ګډون، یوه ځانګړې ډله په دوامداره توګه هدف ګرځولې ده: هزاره ګان چې په غالب شمېر شیعه مسلمانان دي. ځینې بېلګې یې په 5م ستمبر په شیعه هزاره ابادۍ د داعش غبرګې بمي حملې دي چې یکې 20 کسان مړه او 70 ژوبل شوي ول، او سره له دې په اګست 15 یې یو برید کړی و چې 48 ځوان شیعه مسلمانان مړه او 67 یکې ژوبل شوي وو. کال 2018 کې دغه ډول بریدونه یواځې لوی ښارونو لکه کابل پورې محدود نه وو، بلکه په زیاتېدونکي توګه په ولایتي کچه هم، لکه په غزني ولایت کې د بریدونو لړۍ، ترسره کېږي. د هزاره خلکو د حقوقو ملاتړو ګیلې کړې دي چې حکومت دغه ټولنې ته سم امنیت ورکولو کې پاتې راغلی او دا چې هزاره سیاسي مشرانو ته د حکومت د تګلارو د جوړونې په پروسه د اغېز محدوده اجازه ورکړل کېدله.

***غېر مسلمو ټولنو سره چلند:*** په کال 1992 کې طالبانو لاس ته د حکومت د غورځېدلو وړاندې، افغانستان کې نږدې 200000 هندوان او سیکان مېشت وو. په دغه ټولنو د نه تم کېدونکو بریدونو، په زمکو د قبضو له امله زمکنۍ پانګې له لاسه ورکونې، او له ټولنیز او اقتصادي چاپېریال څخه بهر ساتل کېدنې له امله اوس په هېواد کې یواځې 3000 نه تر 7000 پورې سیکان او هندوان پاتې دي. کال 2016 راهیسې دغه ټولنې په لږ شمېر کې پارلیماني نمایندګي لري، او ولسمشر هندوان او سیکان په حکومتي خدمتونو ګمارلي دي.

بیا هم په جولای 2018 کې جلال اباد کې د داعش یو برید کې 19 کسان وژل شوي وو چې یکې د دواړو ټولنو یو شمېر مهم مشران شامل وو. دا برید هغه وخت شوی و چې د ټولنې مشران ولسمشر اشرف غني سره د لیدو لپاره په انتظار ناست وو؛ قربانیانو کې یو اتور سنګه خالصه و چې د اکتوبر 2018 د ټاکنو یواځینۍ سیک کاندید و. دغه برید وروسته، د ټولنو د ګټو د نماینډګۍ لپاره د مشرانو د نشتون په حال کې د ټولنو غړو کې لا زیات ځورول کېدنې په حواله وېره زیاته شوې ده.

له ټولنو څخه په زیاتېدونکي شمېر کې اوازې اورېدل شوې دي چې باید دوی هېواد پرېږدي ځکه چې حکومت نه غواړي یا توان نه لري چې دوی ته مناسب امنیت ورکړي. له دوی ډېر هند ته تښتېدلي دي چېرې چې د استوګنې حقوق ورکړل شوي، خو بلخوا د ټولنې پاتې غړي د مېشت ځایونو او کار روزګار ته د محدود لاسرسي په اړه شکایتونه کوي. د اقتصادي لارو چارو او د استوګنې امنیت لرونکو ځایونو د نشتون له کبله د سیکانو د ټولنې ځینې غړي اړ دي چې په خپلو مندرونو (ګردوارو) کې ووسیږي. لا نور دا چې پاتې هندو—او هم عیساوي کورنیو—هغه مندرونه او کلیساوې پرېښي دي چې په اسانه په نظر راځي او پر ځای یې ساده ودانیو ته تللي دي چې له بریدونو ځانونه وژغوري. ځکه چې په هېواد کې د مړو د سوځولو ځایونه یعني شمشان ګاټونه ډېر کم دي، دا ټولنې نشي کولای چې جنازو کې خپل مذهبي عملونه ترسره کړي. کله چې دوی خپل مذهبي رسمونه د استوګنې په سیمو کې ترسره کړي دي، نو په کال 2018 کې لیدل شوي چې ګاونډ کې مسلماني ټولنې سره د دوی شخړې زیاتې شوې دي.

افغانستان کې د غېر مسلمو په حواله د شریعت قانون داسي ترجماني شوې چې د اعدام د جزا اجازه ورکوي. د اسلام نه منونکو شمېر معلوم نه دی ځکه چې که څوک د داسې حیثیت اعتراف وکړي، وژل کېدلای شي.

په ورته ډول، په افغانستان کې د بهایي ټولنې د نفوسو په اړه ډېره لږه ډاټا په لاس ده. کال 2007 کې د افغانستان د سترې محکمې د فتواوو او د احتساب د عمومي ریاست لخوا بهایي مذهب ملعون ګرځولو څخه وروسته د ټولنې غړي خپله پېژندنه پټوي.

***ښځې او مذهبي ازادي:*** د دغه ګذراش په موده کې افغانستان کې د ښځو حقوق تر ډېره حده په هم هغه شرایطو کې پاتې وو چې 2017 کې یې لرل. ښځو لخوا د جاېداد د ساتنې او په وراثت کې یې د تر لاسه کونې، زدکړې او وظیفه ترسره کونې، او

په خپله خوښه د واده کوني په حقوقو باندې د بریدونو په ترڅ کې سخت دریځي خلک په دوامداره توګه اسلامي اصولو لپاره د خپلو تشریحاتو حوالې ورکوي. په اضافه، کال 2018 کې حکومتي او ټولنیزو عاملینو مذهبي او ټولنیز نورمونه په داسې ډول عملی کولو ته ادامه ورکړه چې د ښځو په ضد تبعیضي وو او په مذهب یا عقیده کې یې د هغوی حقوق محدودول. د بېلګې په توګه، د هېواد مشرانو په فبروري 2018 کې د جزا په قانون کې تازه بدلونونه وکړل خو د ښځو پر ضد تاوتریخوالی یو جنایت ګڼونکی یوه برخه یې ترې لرې کړله. د شریعت د سخت دریځې تشریح په بنسټ د واده څخه بهر یا واده څخه وړاندې د جنسي اړیکو تورونو په پایله کې په افغان ښځو د غېرت په نوم د مرګونو اغېز دوام وموند.

نور دا چې که یو خوا په کال 2017 کې حکومت د وخت څخه وړاندې او د ماشومانو د ودونو د له منځه وړلو لپاره ملي عملي پلان جوړ کړ تر څو له 18 کاله ټیټ عمر کې د ښځینه ماشومانو د منظمو ودونو د عمل مخه ونیسي، خو د دغه پلان په عملي کولو کې کوم بری په نظر نه دی راغلی. د پرمختګ دغه نشتون تر شا په جزوي توګه ځینې سیاسي مشران ګڼل کېدلای شي چې ډېری وخت دلیل یې دا دی چې د ښځو د حقوقو جدیدیت غېر اسلامي کار دی. بیا هم د افغانستان ښځو د خپلو حقونو لپاره غږ اوچتوني او د ملاتړ کار ته دوام ورکړی او په زیاتېدونکي توګه یې د کورنیو شخړې د ښځو د چارو د وزارت لخوا ځانګړو واحدونو او د عدالت د وزارت د حقوقو ریاست لخوا جوړو شوراګانو او جرګو مخې ته راوړې دي.

***انتخابات:*** افغانستان کې ټولټاکنې اوس د شخړې یو لامل په توګه قرار لري. د کال 2018 په اکتوبر کې د ولسي جرګې د ټولټاکنو څخه نږدې وړاندې موده کې، داعش د رای ورکوونکو د نوم ثبتونې یا د رای ورکونې په ځایونو کې پر مذهبي لږکیو—لکه په شیعه مسلمانانو—یو شمېر بریدونه ترسره کړل. د بېلګې په توګه، کابل کې په 22 اپریل یو برید کې 57 کسان مړه او 117 ژوبل شوي ول. په کال 2019 کې راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو سره په تړاو دواړه طالبانو او داعش ورته بریدونه ترسره کړي دي. دا بریدونه نه یواځې تاوتریخوالي څخه ډک وو، بلکه په پایله کې د جانبي زیان په توګه د ټاکنیزې پروسې په ځنډېدلو باندې د پرمختګ په لور روانو د لږکیو ډلو لکه د هزاره شیعه ډلې نیوکې کړې دي.

**د متحده ایالاتو تګلاره**

افغانستان چې په ظاهري نظر یو حل نه لرونکي او نړیوالې پایلې لرونکي کورني جنګ کې ښکېل دی، د متحده ایالاتو د تګلارو جوړوونکو لپاره یو چالش پاتې شوی دی. کال 2014 څخه راپدېخوا، تېر کال 2018 په دې شخړه کې تر ټولو زیات مرګونی و، او شواهد نغوته ورکوي چې د طالبانو او د داعش په تروریستي ډلو کې د جنګیالیو شمېر او د هغوی استعداد مخ پر زیاتېدو دی. طالبانو سره د سولې لپاره د خبرو اترو له لارې د شخړې د حل کولو هڅې تر ډېره حده ناکامې شوې دي، او امکان شته چې داعش او نورې تندروې ډلې به راتلونکي کې د سولې لپاره د هڅو مخه نیولو کوشش کوي. هېواد کې دوه پوځي ماموریتونه لاس په کار دي: د شمالي اتلانتیک د هوکړې سازمان (ناټو) لخوا د کلک ملاتړ ماموریت او د متحده ایالاتو او د افغانستان ګډ ماموریت. کال 2017 کې ولسمشر ډونلډ ج. ټرمپ او د ناټو د کلک ملاتړ ماموریت افغانستان ته د اضافي ځواکونو د ورکړې ژمنه کړې وه. خو په دسمبر 2018 کې ولسمشر ټرمپ د متحده ایالاتو اردو ته امر وکړ چې د کال 2019 په لومړیو څو میاشتو کې له افغانستان 7000 امریکایي عسکر وباسي. دا به د متحده ایالاتو په دولت او د دوی په افغان ملکي اتحادیانو فشار لا نور زیات کړي چې د شخړې د حل کولو په موخه طالبانو سره د سولې هوکړې ته ورسي.

کال 2018 کې د امریکایي حکومت یو شمېر چارواکو افغانستان ته خپلو سفرونو کې د ولسمشر لخوا د سولې د خبرو په تګلاره ټینګار وکړ. جولای 2018 کې د خارجه چارو سکرتر مایيکل ر. پومپیو کابل ته د خپل سفر په ترڅ کې طالبانو سره د خبرو اترو د وضعې په حواله ولسمشر غني سره وکتل چې دا د خبرو اترو په اهمیت رڼا اچوي. په 7م ستمبر 2018 د هغه وخت د دفاع سکرتر جېمز مېټس کابل ته لاړ چې ورته احساسات یې څرګند کړل. که د متحده ایالاتو د حکومت دغه

چارواکو د افغانانو په مشرۍ د سولې پروسې په اړه خبرې کړې دي، خو نه دي لیدل شوي چې دغه مشرانو په عامه درېځ کې د مذهبي لږکیو امنیت طالبانو سره خبرو اترو کې د مهم موضوع په توګه یاد کړی وي. جنوري 2019 کې، چې د دغه رپورټ تر پوښ لاندې نه راځي، د متحده ایالاتو او د طالبانو لخوا د خبرو اترو ګډونوالو په احتیاطي پلان خبرې وکړي چې تضمین کړي چې مهمې افغان سیمې به د نړیوالو ترهګرو—افرادو او ډلو دواړو—لخوا د سخت دریځه فعالیتونو لپاره نه کارول کیږي او دا پلان بنایي له هېواده د متحده ایالاتو د عسکرو د تلنې لاره جوړه کړي.

خارجه وزارت د طالبانو ډله "په ځانګړې توګه یو اندېښمنوونکی واحد" په توګه شمارلې ده چې دا کار د کال 2018 په نومبر کې تازه ترسره شوی دی.